# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۳۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۰/۴



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د جوزجان قوش تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیکېدل

۲- د افغانستان له لارې د ایران او چین د نښلولو نوې پروژه

۳- د افغان-ټرانس پروژې پر پراختیا ټینګار

## د جوزجـان قوش تېپې او درزاب ولســوالیو ته د برېښنا رســونې پروژې تړون لاسلیکېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخونـد په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د مرغومي پـه دویمـه نېټـه د حکومت د اطلاعاتو او رسـنیو په مرکز کې د اوبو او انـرژۍ وزارت او خصوصي شـرکت ترمنـځ د جوزجان قـوش تېپـې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیک شو. د افغانســتان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د برېښنا د تولید او هېوادوالو ته د برېښنا رسونې ګڼې پروژې پیل کړې. افغانســتان د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لـري، خو له بده مرغه په تېرکې له دي ظرفیت څخه ډېره استفاده و نه شوه او اوس اسلامي امارت د برېښنا د تولید له پاره هڅې پیل کړې دي. دغه راز، اسلامي امارت ډېرو هېوادوالو ته برېښـنا توزیـع کړې او غـواړي چې دغه لـړۍ هغو سـیمو ته هم وغځوي چې برېښــنا نه لـري. د جوزجان قوش تېپې او درزاب ولســوالیو ته د برېښنا رســونې د پروژې پیل دا ثابتوي چې اسلامي امـارت په دې برخه کې جـدي دی او غواړي ټول هېوادوال د برېښــنا له نعمته برخمن شي. پر دغه پروژه شـاوخوا یـو میلیارد او ۸۸۶ میلیونـه افغانۍ لګښـت راځي، چې چارې به یې په درېیو کلونو کې بشپړې شي. پـه دې پـروژه کـې د ۸۵.۲۴ کیلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولـټ برېښــنا مـزي غځـول، په قوش‌تېپې او درزاب ولســوالیو کې د دوه سـب سټېشـنونو او دوه توزیعي شـبکو جوړول شامل دي. د دغې پروژې په بشپړېدو سـره به زرګونه کورنۍ له برېښنا برخمنې او په ژوند کې به یې مثبت بدلون راشي. دغه راز، له برېښــنا سره به اقتصادي فعالیتونه زیات او ډېر کاري فرصتونه به هم ایجـاد شي او ګڼې نورې اســانتیاوې به هم رامنځته کړي.





## د افغانستان له لارې د ایران او چین د نښلولو نوې پروژه

ایراني مســوولینو ویلي، د افغانستان له لارې له چین سره د نښلولو له پاره پر یوې نـوې لارې کار کـوي. د پلان لـه مخې، د اوسپنې دا پټلۍ به هرات او له هغه ځایه به بلخ او بیا بـه د واخان دهلېز له لارې له چین ســره ونښلول شي. هرات له وړاندې د هرات-خواف ریـل پټلۍ له لارې له ایران سـره نښـلول شـوی او هـره ورځ پرې سوداګري کېږي.

دغـه نوې لاره به د ســیمه ییـز اتصال په پراختیـا او ټینګښــت کـې مهـم رول ولوبوي، چې افغانســتان په کې مهم رول لري. افغانســتان له لسیزو وروسته اوس د ثبات په ترلاسـه کولو سره په سیمه کې یو ځل بیـا خپل پخـواني ارزښــت ته ور ګرځېدونـکی دی. هغـه ارزښــت چې یو مهال یې د وریښــمو له لارې سیمه له یو بل سره نښلولې وه او سوداګریز کاروانونه به د افغانستان له خاورې تېرېدل.

دا ښــیي چې ثبات د یو هېواد د ښېرازۍ او پرمختـګ اصلي کیلي ده او که چېرته



ثبات نه وي، نو اقتصادي پرمختګونه شوني نه دي.
اوسمهال د افغانستان له لارې د سيمه ييز اتصال د پياوړتيا او پراختيا ښه فرصت برابر دی او د سيمې هېوادونو ته په کار ده چې اختلافات له منځه يوسي او خپله ټوله توجه د خپلو هېوادونو پرمختګ او اقتصادي ښېرازۍ ته وکړي.

## د افغان-ټرانس پروژې پر پراختيا ټينګار

د قزاقستان ولسمشر د افغان-ټرانس پروژې په اړه په خپلو وروستيو څرګندونو کې د دې پروژې په پراختيا ټينګار کړی دی. ښاغلي قاسم جومارت توکايف ويلي، د سيمې هېوادونه د افغان-ټرانس پروژې د ګډې پراختيا له لارې د سويلي اسيا، منځنې ختيځ او د افريقا بازارونو ته مستقيم لاسرسی موندلی شي. نوموړي د اوراسيا پراختيايي بانک ملاتړ د دې پروژې په ګټه بللی دی.

افغان-ټرانس پروژه د سيمه ييز اتصال مهمه پروژه ده چې د منځنۍ اسيا هېوادونه د افغانستان له لارې له سويلي اسيا سره نښلوي او د منځنۍ اسيا هېوادونه کولی شي چې د هند اوبو ته اسانه او ارزانه لاسرسی ومومي او برعکس د سويلي اسيا هېوادونه د منځنۍ اسيا بازارونو ته چټک او ارزانه لاسرسی پيداکړي.

په دې پروژه کې يو ځل بيا د افغانستان موقعيت مهم ثابتېږي او ښيي چې په افغانستان کې ثبات د سيمې د اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم دی. په افغانستان کې له لسيزو وروسته د راغلي فرصت څخه په استفادې کېدلی شي چې نه يوازې افغانستان، بلکې سيمه د اقتصادي ودې لوړو پوړيو ته ورسېږي.

د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره پاليسي او متوازن بهرنی سياست ښيي چې اسلامي امارت د سيمه ييز اتصال په پياوړتيا او پراختيا باور لري او هڅه کوي چې افغانستان د سيمه ييزو هېوادونو ترمنځ د څلور لارې حيثيت خپل کړي او افغانستان په کې مرکزي رول ولوبوي.

